Australian Government
Department of Home Affairs

# د TPV/SHEV لېږدونه دايمي ويزو ته

د استراليا حکومت د سب کلاس 785 د خونديتوب لنډ مهاله ويزي (TPV) او سب کلاس 790 خوندي پتنځاي او ښندي ويزي (SHEV) لرونکي د دايمي ويزي لپاره د غوښتنليک ور کړي دي.

## ورتوب

که تاسو د **14 فبروري 2023** د مخه د سب کلاس 785 خونديتوب لنډ مهاله ويزي (TPV) او سب کلاس 790 خوندي پتنځاي او ښندي ويزي (SHEV) درلوده يا غوښتنليک مو ورته کړي وي نو تاسو ممکن د دايمي سب کلاس 851 د وضعيت د حل کولو ( Resolution of Status (RoS) ويزي لپاره ور اوسي.

که تاسو د خونديتوب مکلفيتونو کي ښکيل نه ياست، که تاسو د ورتيا يا قضايي بيا کتني پايلي ته په تمه نه ياست، او تاسو په استراليا کي د پاتي کيدلو لپاره ټولي لاري ختمي کړي دي، ستاسو څخه تمه کيږي چي په خپله خوښه استراليا پريږدي او ممکن د وتلو لپاره مرسته درکړل شي.

### استراليا ته غير منظم صفر

حکومت د خپلواکو سرحدونو عملياتو ته ژمن دي. د استراليا د سرحدونو د ساتني پاليسي نده بدله شوي او بدله به نه شي. هر هغه څوک چي څخه کوي استراليا ته په غر منظم ډول سفر وکړي دلته به دايم لپاره ميشت نه شي

هر هغه څوک چي د باوري ويزي پرته د کښتي له لاري استراليا ته د سفر ّڅه کوي دوي به:

- بيرته به د دوي د وتلو ځاي ته وګرځول شي
- بيرته به خپل هيواد ته واستول شي يا
- د دوي د خونديتوب د ادعاوو د ارزوني لپاره به يوه سيمه ايز د پروسي هيواد ته وليږدول شي.

د استراليا د سرحدونو د ساتني سختي پاليسي د استراليا د سرحدونو ساتنه، د خلکو د قاچاق سره مبارزه او د سمندر په اوږدو کي د خطرناکو کښتيو سفرونو څخه د خلکو مخنيوي کول دي.

## د RoS د ويزي لپاره څرنګه غوښتنه وکړي

### TPV/SHEV غوښتونکي (پګدون د نورو غوښتنليکونو)

| | |
|---|---|
| **د غوښتنليکونو پروسه** | که تاسو د 14 فبروري 2023 مخکي د TPV/SHEV لپاره وزارت ته (پشمول د TPV/SHEV ته نور غوښتنليکونه) غوښتنليک استولي وي، **تاسو ارتيا نلري چي کوم بل څه وکړي.** وزارت به ستاسو د TPV/SHEV غوښتنليک د RoS ويزي غوښتنليک ته بدل کړي. |
| **زه څرنګه پوه شم چي زما غوښتنليک بدل شوي دي؟** | وزارت به په اتوماته توګه ستاسو د TPV/SHEV غوښتنليک د RoS ويزي غوښتنليک ته بدل کړي. که وزارت ستاسو غوښتنليک بدل کړي وي، تاسو به خبرتيا درنکړل شي، وزارت به ستاسو سره اړيکه ونيسي که مور نورو مالوماتو ته اړتيا درلودله، يا کله چي ستاسو د RoS ويزه درکړل شي. |

### د TPV/SHEV لرونکي (کوم چې بل د TPV/SHEV غوښتنلیک د وزارت سره نلري)

| | |
|---|---|
| د غوښتنلیکونو پروسه | د TPV/SHEV لرونکي کوم چې استرالیا ته د 14 فبروري 2023 څخه مخکې راغلي وي (او د وزارت سره غوښتنلیک نلری) کولې شي د **ImmiAccount له لاري د RoS ویزې لپاره انلاین غوښتنلیک وکړي**. تاسو ارتیا نلرې چې د غوښتنلیک لپاره اجازه درکړل شي. دا په بریښنایي فورمه کې شامل دي.<br><br>د غوښتنلیک لپاره نور مالومات شتون لري په [RoS visa page](RoS visa page). |
| مهالویش | تاسو باید د RoS ویزې لپاره غوښتنلیک وکړي **مخکې لدې چې ستاسو اوسني TPV/SHEV موده تمامه شي**. که تاسو دا کار ونکړي، تاسو به غیر قانوني شي او کیداي شي حکومتي خدمتونه ته لاسرسي ونلري. |
| ځ ځرنګه پوه شم چې زما غوښتنلیک رسیدلي دي؟ | کله چې تاسي یو سم غوښتنلیک وکړي، تاسو به یو لیک لاس ته راوړي چې د رسیدلو خبر درکوي. که تاسو یو ناسم غوښتنلیک کړي وي، تاسو ته به احوال او دلیل درکړل شي چې ولې دا ناسم وو |

### د TPV/SHEV پخواني لرونکي

| | |
|---|---|
| د غوښتنلیکونو پروسه | که تاسو یو پخواني د TPV/SHEV لرونکي یاست او ستاسي د ویزې موده په 14 فبروري 2023 تمامه شوي وي، تاسي کولې شي د **ImmiAccount له لاري د RoS ویزې ته انلاین غوښتنلیک وکړي**. ستاسو غوښتنلیک به همدارز د پلي (بریجنګ) ویزې لپاره په نظر کې ونیول شي. |
| ځرنګه پوه شم چې زما غوښتنلیک رسیدلي دي؟ | کله چې تاسي یو سم غوښتنلیک وکړي، تاسو به یو لیک لاس ته راوړي چې د رسیدلو خبر درکوي. که تاسو یو ناسم غوښتنلیک کړي وي، تاسو ته به احوال او دلیل درکړل شي چې ولې دا ناسم وو . |

### مهم مالومات د ټولو RoS ویزه غوښتونکیو لپاره

| | |
|---|---|
| بیه | د RoS ویزې د غوښتنلیک لپاره فیس شتون نلري |
| چیرته غوښتنلیک وکړم | **تاسو باید انلاین د ImmiAccount له لاري غوښتنلیک ورکړي، مګر دا چې تاسو ته وزارت دا اجازت درکړي وي چې د کاغذ فورمې تسلیمي کړي.** |
| د ویزې اړتیاوي | د RoS ویزې ټول غوښتونکي باید د روغتیا، ملي امنیت او شخصیت اروند اړتیاوي پوره کړي. غوښتونکي چې 18 کلن او پورته عمر ولري باید د استرالیا د ارزښتونو بیان هم لاسلیک کړي.<br><br>د RoS غوښتونکي اړتیا نلري چې د محافظت الزامات ارزوني تر سره کړي. اکثر غوښتونکي به اړتیا ونلري چې مصاحبې ته ورشي. |
| کورني | د کورني غړي کولې شي په یوه غوښتنلیک کې غوښتنه وکړي، مګر هر یو غوښتونکي به په چلا ډول وارزول شي. |
| خاص شرایط | که تاسو خاص او بیل شرایط لري او ملاتړ ته اړتیا لري، په خپل ایالت یا سیمه کې د ټولنیز د پناه غوښتونکیو او مهاجرت حقوقي خدمتونو چمتو کونکی متخصصینو سره اړیکه ونیسي (لاندي لست وګوري). |
| په وضعیت کې بدلون | تاسو کولې شي د وزارت غوښتنو ته په ټاکل شوي مهالویش کې په ځواب ویلو سره د خپل RoS ویزې غوښتنلیک په پرمختګ کې مرسته وکړي. وزارت ته سمدستي د خپلو شرایطو یا په اړیکو کې د بدلون په اړه وواياست(http://immi.homeaffairs.gov.au/change-in-situation/contact-details) . |
| د پروسي مهالویش | اکثر دوسیي به د پیل څخه په 12 میاشتو کې پروسس شي. |

## د ويزې د غوښتنليکونو لپاره وړيا مرسته

حکومت د ويزې غوښتنليک **وړيا** مرستې د پروسې لپاره د دوو کلونو لپاره د $9.4 مليونو ژمنه کړې ده. په استراليا کې د پناه غوښتونکيو او مهاجرت حقوقي خدمتونو چمتو کونکي متخصصين به دا مرستې په وړيا توګه چمتو کړي.

پداسې حال کې چې دا لازمي نده، TPV/SHEV لرونکي چې د RoS ويزه غوښتونکي وي کولی شي د حقوقي خدمتونو د چمتو کونکي سره په خپل ایالت یا سیمه کې اړیکه ونیسي.

| ويبپاڼه | ایالتونه/ سيمې | د خدمت چمتو کونکی |
|---|---|---|
| www.refugeelegal.org.au | ويکتوريا | Refugee Legal |
| www.racs.org.au | نيو ساوت ويلز | Refugee Advice and Casework Service (RACS) |
| www.iarc.org.au | نيو ساوت ويلز | Immigration Advice and Rights Centre (IARC) on referral from RACS NSW |
| www.legalaidact.org.au | د استراليا مرکزي سيمه | Legal Aid |
| www.rails.org.au | کوينزلنډ | Refugee and Immigration Legal Service (RAILS) |
| www.circlegreen.org.au | لويديځ استراليا | Circle Green |
| www.lsc.sa.gov.au | جنوبي استراليا | Legal Services Commission |
| www.trls.org.au | تازمانيا | Tasmanian Refugee Legal Service |
| www.legalaid.nt.gov.au | شمالي سيمه | Legal Aid |

** **يادونه:** د کورنيو چارو وزارت د کار د چټکتيا لپاره فيس نه چارجوي. که تاسو ته د دې خدمت وړانديز وشي، دا يوه درغلي ده.*

## د RoS ويزې لرونکيو لپاره خدمتونه او ګټې

هغه خلکو ته چې يوه RoS دايمي ويزه ورکړل شي د تولو دايمي اوسيدنکيو په څير ورته حقوق او ګټې لري. په دې کې د انتظار موده شتون نلري او سمدستي ورتوب لري دي:

- **د تولنيز امنيت اړوند تولو تادياتو ته** (www.servicesaustralia.gov.au),
- **د معلوليت بيمې ملي برنامه** (www.ndis.gov.au), او
- **د لوړو زده کړو مرسته** (www.studyassist.gov.au).

د RoS ويزې لرونکي به وړ وي د:

- کله چې استوګنيز او نور شرايط پوره شي نو د استراليا اتباع به شي
- د مهاجرت پروګرام د کورني ويزې لاندې د کورني سپانسر کول چې استراليا ته راشي.

هغه سپانسر کونکي يا وړانديز کونکي چې استراليا ته د غير مجاز سمندري رارسيدليو (UMA) په توګه راغلي دي، نور د مهاجرت برنامې د کورني ويزې په موده کې د پروسس کولو تر تولو ټيټ لومړيتوب نه تر لاسه کوي.

د RoS ويزې لرونکي به **Medicare** او وړيا متخصص رواني روغتيايي مرستې، د **شکنجې صدمې د ژوندي پاتې کيدلو د مرستې پروګرام له لارې لاسرسي ولري** www.health.gov.au

**نور مالومات**

نور مالومات د وزارت په ويبپاڼه کې شتون لري:https://immi.homeaffairs.gov.au/visas/getting-a-visa/visa-listing/resolution-of-status-851